# په سوات کښې د پښتو شاعرۍ په ارتقاء کښې د مېرمنو برخه
# اوله برخه

# The Contribution of Female Writers in the Promotion of Pashto Poetry in Swat Part 1

Atha--ur –Rehman Atha*
Dr Sher Zaman Semab**

**ABSTRACT:**

There is no denying the fact that the Valley of Swat, an epitome of natural beauty, has long been a hunting ground for world renowned historians, anthropologists and archeologists, alike. Equally, Swat is endowed by the Providence with fertile minds whose works enriched Pashto language and literature. This was not possible without the government patronage. The State of Swat, an autonomous state till mid twentieth century, played a substantial role in nourishing Pashto literature and language as its official language was Pashto. Owing to the fact, not only male writers contributed substantially but contribution of female writers was no less in quality, though less in quantity. The present study encompasses, though briefly, the role of female writers, especially poetesses, in the language and literature in the region of Swat. This study not only investigates the poetic works of senior female writers but also those done by the contemporary writers as well.

**Key words:** Swat State, female writers, Pashto poetry, language and literature

سوات چې په تهذيبي او تاريخي حوالو خپل ځانګړے اهميت لري د پښتو ژبې او ادب په اړه هم خپل ځانګړے اهميت لري ځکه چې دسوات رياست د دنيا په مخ هغه يواځينے رياست دے چې يواځينۍ سرکاري ژبه ئې پښتو وه ـ په کال ۱۹۳۷ کښې د جون په مياشت کښې پښتو د سوات رياست سرکاري ژبه ګرځولے شوې وه او د دې نه وروستو به ټول سرکاري خط و کتابت په پښتو ژبه کښې کېده ـ سوات هغه رياست دے چې د باشاه په دربار کښې به ئې

* Ph.D Scholar, Pashto Academy UOP
** Assistant Professor, Pashto Academy UOP

پښتو مشاعرې کېدې او د وخت بادشاه به ورته پخپله ناست وۀ او شاعرانو له به ئې داد ورکولو۔ د دې نه پرته يو شمېر کتابونه به د حکومت له خوا چاپ کېدل او په خلکو کښې به مفت تقسيمولے شول .هم دغه وجه ده چې دپخوا نه د سړو نه علاوه زناناؤ هم په سوات کښې دپښتو شعر و ادب ته پاملرنه کړې ده اوګڼ شمېر تخليقونه ئې مخې ته راوړي دي ۔ دغه موضوع ډېره خوره وره او وخت طلب ده چې کار پرې اوکړے شي۔ دلته د سوات د څۀ پخوانو او اوسنو زنانه شاعرانو د شاعرۍ جاج وړاندې کولے شي۔

زنانه د تخليق سرچينه ده۔ د نزاکت ،ښکلا اوجمال منبع ده۔ د حساسيت او استکارۍ جوهر ورته دلوے څښتن له اړخه په بشپړه توګه ور بخښلے شوے دے۔ زنانه د تخيل رفعت او د جذباتو زورلري۔ دخبرو په چل پوهېږي خندا ئې په زړونو کښې لارې جوړه وي او ژړا ئې هم زړونه غوڅوي او دغه ټول عناصر د شعر په تخليق کښې مرسته کوي۔ د دې نه علاوه د پښتنې ټولنې زنانه ګڼ شمېر ټولنيزقدغنونه لري ،ډېرې بې وسۍ،مجبورۍاو بې واکۍ لري ۔ په محرومواوسختو کښې ژوند تېروي او اکثره د غېر انساني سلوک او رويو ښکار وي ۔ دغه محرک هم د شعر له پاره د بنياد کار ورکوي اوانسان د خپل داخل اظهار ته هڅوي او پاره وي۔ هم دغه وجه ده چې زمونږ د پښتو شاعرۍ مور "ټپه" دزناناو صنف دے او تر اوسه د اولسي ادب پوهان په دې خبره يوه خله دي چې د پښتو ټپې په تخليق کښې بنيادي کردار د زناناؤ دے او پښتو ټپه ،د هغې موضوعات ،اسلوب او فني جوړښت پخپله ددې ثبوت دے۔

د ټپې نه علاوه پښتنو زناناؤ په ګڼ شمېر کښې خپل احساسات او جذبات د شعر دلارې ظاهر کړي دي خو هغه خوندي شوي څکه نه دي چې دپښتنو په ټولنه کښې تراوسه د زناناؤ د شاعرۍ يا تخليق حوصله افزائي نۀ ده شوې خو ددې هرڅۀ باوجود په پښتو ادب کښې اوس هم ګڼ شمېر شاعرانې موجودې دي چې دخپل فن او احساس په رنګونو ئې د پښتو شعر ګلستان نور هم ښائيسته کړے دے۔ دغه لړۍ د مېرمن زرغونه کاکړه ،رابعه،حليمه حافظه ، نېک بخته او نازو توخۍ نه راوخله تر سيده قانته بېګم، س ب ب ،الف جانه خټکه، سلطانه شميم،زېتون بانو رارسي او د هغوي نه رانيولے تر ننه پورې د پښتو په شعري تاريخ کښې بيا هم په سوؤنو شاعرانې داسې موجودې دي چې د شعرانګازه ئې زمونږ تر غوږو رارسېدلې ده۔ اوس چې د شعور ،اګاهۍ او تعليم دور دے نو د پښتنې ټولنې هم په مزاج کښې بدلون راغلےدے او زناناؤ ته د ژوند په هره شعبه کښې ځاے ورکولے کېږي ۔ دغه اثر په فنونو او

موسیقۍ کښې هم ښکاره په نظر راځي ـ اود شعر وادب په مېدان کښې هم دزناناؤ په شمېره کښې خاطر خواه اضافه په نظر راځي ـ

## بخت پري

دسوات په زړو اوپُخته کارو زنانه شاعرانوکښې یونوم د بخت پري هم دے ـ اګرچې د هغې شاعري تر دې دمه چاپ شوې نۀ ده خو د سوات نوموړې څېړنکار،ناول نګار او شاعر اروابښاد رحیم شاه رحیم په خپل کتاب "غټه خزانه" کښې د هغې د ژوند حالات او د شاعرۍ نمونه ورکړې ده ـ درحیم شاه رحیم دلیک نه داخبره ښکاره ده چې د هغې د شاعرۍ ناچاپه مسوده اوس هم موجود ده اوچاپ ته په انتظار ده ـ

دبخت پري دپلار نوم مهروزخان دے او هغه په کال ۱۹۲۸کښې په سېدو شریف کښې دهغۀ په کور کښې پېدا شوې وه ـ په دغه اړه اروابښاد رحیم شاه رحیم داسې لیکي:

"بخت پري هم ددې مهروز خان کره په کال۱۹۲۸کښې په سېدو شریف کښې پېدا شوه ـ د بخت پري نه علاوه دمهروزخان یوه لور او درې ځامن نور هم وو"ـ۱

دهغې پلار د ریاست په فوځ کښې وظیفه ترسره کوله او د صوبیدارۍ تر منصب رسېدلے وۀ ـ بخت پري دخپل وخت د رواج مطابق خپله اولنۍ زده کړه اولیک لوست په خپل کلي کښې زده کړے وۀ ـ تر پینځم جماعت پورې ئې سبق وئیلے وۀ او د قرآن پاک لوسته ئې هم کړې وه ـ په دغه اړه رحیم شاه رحیم لیکلي دي:

"بخت پري په خپلو خوئیندو ورونو کښې دټولو نه مشرۀ وه ـ د پینځم جماعت پورې سبق او په ناظره قرآن پاک بخت پري په سېدو شریف کښې اووې ـ"۲

د هغه د دور د ټولنیزو روایاتو او غوښتنو ترمخه چې کله د بخت پري عمر شپاړسو کالو ته اورسېدۀ نو دهغې د واده بن بنا جوړه شوه ـ د سوات د مام ډهرۍ کلي د خپل ترور زوے محمد رشاد ته واده شوه ـ دهغې کورنۍ ژوند ښه خوشحاله وۀ او هېڅ قسمه کورنۍ مسله نۀ وه خو وروسته د هغې د خاوند دماغي حالت خراب شو او د هغې بدې ورځې پېل شوې ـ د مجبورۍ په حالت کښې هغې د عدالت د لارې د اولني خاوند نه طلاق واخیسته ـ هغه یو ځل بیا د مام ډهېرۍ نه د خپل پلار کره سیدو شریف ته راغله او دلته نه هغې وروستو د ښائیسته ګل نومې یو بل کاروباري سړي سره وادۀ اوکړه ـ دهغې د دویم خاوند هم کاروبار خراب شو او ډېره موده په جېل کښې پاتې شوـ دغه رنګ د هغې اخري عمر په مایوسۍ او تکلیفونو کښې تېرشو ـ

هغه په ۲۱دسمبر کال ۱۹۷۹کښې په حق اورسېده او په شګۍ سېدو شريف کښې خاورو ته اوسپارلې شوه ـ په دغه اړه اروابناد رحيم شاه رحيم په خپل کتاب غټه خزانه کښې داسې ليکلي دي:

"د مينګورې داباکماله هنرمنده ښاپېرۍ دغمونو دردونو او پرېشانو په داسې حالت کښې اخر په ۲۱دسمبر ۱۹۷۹کښې د دوه پنځوس کالو په عمر کښې وفات شوه ـ"۳

ترڅو چې د بخت پرې د شاعرۍ تعلق دے نو د هغې شاعري د هغې د داخل نېغ په نېغه اواز او اظهار دے ـ د هغې د ژوند دردونه،کړاونه او پريشانۍ د هغې په شعر کښې ډېرې ښکاره په نظر راځي د هغې په شاعرۍ کښې د غم عنصر داسې خور دے چې په لوستو ئې بنده ته داردو ژبې ستر شاعر مير تقي مير راپه ياد شي هغه وائي ـ

په ارمـــان ارمـــان بـــه تـــور لحـــد تـــه کـــوز شـــم
کـــه بـــدل بـــه چـــرې شـــي دغـــم وختونـــه۴

هم دغه رنګ هغه په بل ځاے کښې د خپل زړۀ داسې حال بيانوي ـ

ســـپين بشـــر مـــې ســـوے ســـکور شـــو ســـتا د غمـــه
د چشـــمانو نـــه مـــې ځـــي اوښـــکې بـــاران

د زړۀ تـــاؤ مـــې داســـمان ســـتورې پـــولۍ کـــړۀ
دافســـوس لـــوګے مـــې خېـــژي لـــه دهـــان

بخـــت پـــرې پـــرې د ډېـــره غمـــه پـــه ســـلګو ده
تماشـــې تـــه ئـــې راغونـــډ دے تـــول جهـــان۵

دغه رنګ او رجحان د هغې په شاعرۍ په مجموعي ډول خور اور په نظر راځي او هغه ډېره کمه د دغه کېفيت نه بهر ته اوځي ـ

پـــه فکرونـــو کښـــې ډوب ســـر پـــه زنګـــون ناســـت ووم
پـــه يـــارۍ کښـــې دهرلـــورې تـــاوان راغـــے۶

دغه رنګ هغه په غم کښې دخپل نصيب دکردار قائله ده او وائي ـ

خپــل نصــیب رالــه کچکــول پــه لاس کښــې راکــړو
پـــه بـــدن بانـــدې مـــې ځکـــه لـــړزان راغـــے ۷

په فني حواله د هغې شاعري په تول پوره ده او زیاتره ئې غزل لیکلے دے۔ په شعر ئې کلاسیکي رنګ خور دے موضوعات او اسلوب ئې کلاسیکي رنګ جوت لري۔

## افسانه

دسوات د پښتو په زنانه شاعرانو کښې بل مهم نوم د اروابنادې افسانې دے۔ اګر چې د هغې د شاعرئ دوه ضخیم کتابونه د وخت تودو بادونو په مخه وړي دي او خوندې نۀ دي پاتي شوي خو د هغې یوه ناچاپه ضخیم دیوان دهغې په لیک اوس هم د سوات د فتح پور کلي برکت علي برکت سره خوندي دے ځوک چې پخپله هم لیکوال او شاعر دے۔ مېرمن "افسانه" په کال ۱۹۳۲ ء د مینګه ورې په سیمه وتکي شاهدره کښې دمیاامیر کره پېدا شوه۔ د هغې د ناچاپه شاعرئ په کتاب کښې هغې د خپل پېدائش نېټه نۀ ده لیکلې او نۀ د لیک په اخره کښې نېټه لیکلے شوې ده۔ د هغې د زېږون د نېټې په اړه برکت علي برکت وائي۔

" ترڅو چې ما د هغې د خپلو خپلوانو نه د هغې د پېدایش د کال په اړه معلومات کړي دي نو د هغوي د وېنا تر مخه د هغې د پېدائش کال ۱۹۳۲ ء دے او د پلار نوم ئې میا امیر دے "۸

د مېرمن افسانې د خپل لیک نه اندازه لګي چې عصري زده کړه ئې نۀ وه کړې هغه وائي چې هغه وخت سکولونه نۀ وو خو جینکئ به د قرآن د سبق زده کړې له ورتلې۔ ددې نه نتیجه اخذ کېدے شي چې هغې هم د قرآن پاک تعلیم تر لاسه کړے و۔ هغه داسې لیکي:

"هغه وخت د خلقو دا رواج وۀ چې سرمایه دارو خلقو لوڼه به دکلي دیوې ماهرې استاذې په حواله د قرآن پاک تعلیم ته داخلې کړې او هلکان به د کلي په جماعت کښې د استاد په حواله شو۔۹

د هغې د لیک نه داهم اندازه لګي چې د هغې کورنئ یوه علمي اوادبي کورنئ وه او د هغې د وړو کوالي نه هغې د رحمن بابا او حافظ الپورئ شاعري اورېدلې وه او خوږه پرې لګېدلې وه۔ خو هغه چې د پېغلتوب عمر ته داخله شوه او وادۀ شوه نو داسې ښکاري چې د خپل کورني ژوندنه خوشحاله نۀ وه۔ وخت تېرېدو د شپږو بچو مور شوه۔ هغې به شاعري پټه ساتله د خپل

خاوند نه به ډېره وېرېده ـ او هم د دغې وېرې له وجې ئې خپله شاعري او سوځوله په دغه اړه هغه لیکي:

"خو یوه ورځ ماکتله نو نا ګهانه مې زړۀ له راغلل چې که دا څوک اووینې نو
ماته به شاعره وائي ،خداے مه کړه،چې زما نوم په یو کوراومحفل کښې
افسانه شي نو هغه کاپي ما تنور ته واچوله ۱۰

خوځۀ مودۀ بیا شاعرۍ په ارام پرې نۀ ښوده او بیا د شاعرۍ نوره ذخیره جمع شوه چې یوه ورځ د هغې مېړۀ اولیدۀ نو هغه ترې او سوځله او په هغې پسې ئې هم ټوپک راواخیستۀ ـ په دغه اړه هغې لیکلي دي :

"یوه ورځ بې وخته کورته راغے ـ ما دستي کتاب پټ کړۀ ـ قلم مې په ګوتو کښې او
چشمې په سترګو وې ـ درې واړۀ زامن مو کور وو ، خو هغۀ شک من شو ،زۀ منکره
شوم ، دبسترې د لاندې نه ئې کتاب راوښستو او په ما پسې ئې ټوپک راوخیستو
کتاب ئې بل اور ته وروا چولو ۱۱

دغه شان د هغې دوه کتابونه او سوځولے شو ـ د دې پېښې نه د هغې ورونه خبر شو هغوي ته اول د افسانې د شاعرۍ پته لګېدلې وه او پاتې شاعري چې پوره ضخیم کتاب ترې جوړېدے شي هغوي اوساتله ـ د هغې مشر ورور او خوئښدو هم شاعري کوله ـ هغه خورشید ،فضل رشید او احمد زېب خپل خپلوان ښائي او وائي چې شاعران هم دي ـ

د هغې د خپل لیک نه اندازه لګي چې ډېر عمر ئې موندلے وۀ او ضعف ته رسېدلے وۀ ـ دهغې د مړ ینې د نیټې په اړه برکت علي برکت وائي چې هغه په فرورۍ کال دوه زرۀ یو کښې وفات شوې ده ـ دغه رنګ د هغې ژوند خواشا اوویا (۷۰) کلونه جوړېږي ـ دهغې د شعر نه داسې ښکاري چې خپل نوم ئې افسانه نۀ دے خو دغه نوم د قلمي نوم په توګه کاروي ـ د هغې خپل نوم بر حلیمه وۀ او په ښائسته بي بي مشهوره وۀ ـ د خاوند نوم ئې محمد جمیل وۀ.د هغې درې ځامن او درې لوڼه دي ـ

نـــــوم مـــــې بـــــل دے افســــــانه وایمــــــه ځانتــــــه
افســــــانه مــــــې دلتـــــــه ځکــــــه دے لـــــــیکلے ۱۲

د اروښادې مېرمن افسانې شاعري په کلاسیکي رنګ کښې رنګ ده ـ موضوعات ئې هم کلاسیکي دي او اسلوب ئې هم ـ د حمد او نعت نه وروستو ئې په کلاسیکي رنګ د ردیفونو په الف بائي ترتیب شاعري کړې ده ـ شاعري ئې د معیار او مقدارہ دواړه د لحاظه د غور جوګه ده ـ

د خدای او رسول مینه،ددنیا بې ثباتي،اخلاقیات،د ټولنې اصلاح،دوخت نه ګیله او عشق د هغې د شاعرۍ ښکاره موضوعات دي ـ دکلام نه ئې اندازه لګي چې کلاسیکي شاعران ئې لوستي دي او ښځه ډېر مذهبي معلومات لري ـ عالمانه رنګ د هغې د شاعرۍ بل ښکاره خصوصیت دے ـ د خدای او د رسول صلي الله علیه وسلم مینه د هغې په شاعرۍ کښې ښکاره په نظر راځي ـ

افسانه په دنیا ځهٔ کړي ایمان غواړي
دغه سوال ئې په درګاه د رب کریم دے ۱۳

هم دغه رنګ په بل ځای کښې لیکي :

افساني سفر دي اوږود بار دې درونـد دے
مدد غواړه د رحیم ،کریم الله ۱۴

دغه رنګ په بل شعر کښې وائي:

که عمل مې په تول سپک لکه بڼه ده
په خپل فضل کړې ته درون میزان زما ۱۵

د هغې د شاعرۍ مجموعي فضاء هم په دغه نوراني نور رنګینه ده ـ د لوی ځښتن مینه د هغهٔ صفت د هغې په شاعرۍ کښې هر ځای ښکاره په نظر راځي :

خدایا ته ئې هم حمید او هم مجید
تا پیدا کړهٔ څوک شقي او څوک سعید

تهٔ مالک د اسمانونو هم د ارض ئې
څوک خوشحال کړې په چاړدي عذاب شدید

ربه!ته په کل اشیا سمیع بصیر ئې
په قرآن کښې دے ایت حبل الورید ۱۲

دغه شان دغه واعظانه رنګ په لاندینو شعرونو کښې هم ښکاره په نظر راځي

په کاڼه به اثر څنګ کړي د چا وعظ
که کوي ورته هر شام و صبا وعظ

چـــې ئـــې وعـــظ د مـــور پـــلار وي منســـوخ کـــړے
هغـــــه زوے بـــــه واوري څـــــۀ د مـــــلا وعـــــظ

پـــــه تبليـــــغ د افســـــانې چـــــې غصـــــه کېـــــږي
ناشـــولتو تـــــه بـــــه ولـــــې کـــــړې بيـــــا وعـــــظ ۱۷

ددنيا ژوند ته په کوم نظر ګوري، ژوندئې څومره مشاهده کړے دے، داسې ئې بيانوي:

دا دنيـــــا يـــــو عجـــــب ځـــــاے دے
چـــــې ګـــــل هـــــم دے هـــــم ازغـــــے دے

دا هـــــــم اور دے هـــــــم اوبـــــــۀ دي
هـــــم خـــــزان دے هـــــم ســـــپرلے دے

هـــــــم خنـــــــدا ده هـــــــم ژړا ده
هـــــم ژونـــــدون دے هـــــم مـــــرګے دے۱۸

دغه رنګ هم په دغه نظم کښې وړاندې داسې ليکي:

دا رواج دے، دا قـــــــــــــانون دے
د رســـــــــــمونو صـــــــــــذوقے دے

دا دهوکـــــــــــه ده، دا فريـــــــــــب دے
دلتـــــــه هـــــــر ســـــــړے مکـــــــرے دے

دلتـــــه چـــــل کـــــړي چـــــل بـــــازي ده
کـــــه مالِـــــک کـــــه مـــــريے دے

صـــــــداقت دلتـــــــه کښـــــــې نشـــــــته
د وفـــــــا دلتـــــــه کمـــــــے دے۱۹

ددې نه پرته د پښتو او پښتون قام سره مينه دهغې په شاعرۍ کښې هم ښکاره په نظر راځي۔ دمزدور د سر خط لاندې ليکلے شوې نظم نه ئې د ترقي پسند خيالاتو عکاسي هم کېږي۔ اسلوب

نه ئې ښکاره ده چې هغه ښه عالمه ،فاضله زنانه وه ـ عربي او فارسي توري ئې ډېر په مهارت او استکارۍ په خپل شعر کښې ځاے کړي دي ـ د شعر فني ښه ئې دکمال ترحده مضبوطه ده او فني کمزوري په کښې په نظرنۀ راځي په محاکاتو او منظر نګارۍ هم لاس برے لري چې د هغې د ژورې مشاهدې ثبوت دے ـ لاندیني شعرونه ئې دبرجستګۍ ،روانۍ او منظر نګارۍ بې بدله نمونه ده ـ

دا قیصــــــه د کلــــــي والــــــو جینکـــــو ده
د ســــــيالانو عــــــزت منـــــدو دردانـــــو ده

کلــــي والــــې چـــې ســـحر د خوبــــه پـــاځي
دا قاعــــــده د مشـــــــرانو پخوانــــــو ده

مـــونځ اداکړي،منګــــي ډک کـــړي کـــور جـــارو کـــړي
ناشـــــته جـــوړه کـــــړې ذمــــه دا د هغـــــو ده

غوجـــل پاکــــه کړي،ګیــــاه ځــــاورو تــــه ورکــــړي
مېښــــــــه ولوشـــــــي خبـــــره د مـــــــزو ده

شـــــوملې اوشــــاربې تیـــــارۀ ترکــــاري کــــړي
پــــه تنـــور ډوډۍ پخــــه کـــړي پـــري رو دۀ ۲۰

د هغې شاعري دمقدار او معیار،موضوعاتي تنوع،تاریخي شعور،عالمانه مضامینو ، فني کمال ،درد وغم ،مقصدیت او نصیحت په بنیاد هغه شاعري ده چې هغه دیو قادرالکلامې استاذې شاعرې په حېث مخې ته راځي ـ د هغې شاعرې د جدا تفصیلي تحقیقي کار تقاضه کوي ـ هغه دسوات په کلاسیکي شاعرانو کښې تر ټولو قادر الکلامه شاعره ده چې شاعري ئې د دې خبرې ښکاره دلیل او ثبوت دے ـ که د هغې شاعري محفوظه پاتې شوے وے او په وخت منظر ته راغلے وے نو هغه به،دپښتو په زنانه شاعرانو کښې په اول صف کښې ارومرو ولاړه وے ـ

## مختیار بېگم

مختیار بېگم دسوات په پخته کار شاعرانو کښې ده مختیار بېگم په کال ۱۹۵۴ کښې دمینګه ورې خواته په وتکي شاهدره کښې دحاجي روزب کره پېدا شوه هغې تر پینځم ټولګي سبق وئیلے وۀ او نور تعلیم ئې نۀ وه تر لاسه کړے ـ او خپل باقي ټول عمر ئې د یوې کورنۍ زنانه په حېث تېر کړے دے په دغه اړه فضل محمود روښان داسې لیکي:

" د مختیار بېګم دزېږون ځاے وتکے مینګه وره دے ـ دوتکي نوم شاهدره دے زیاته استوګنه ئې د مینګه ورې په محله عیسي خېل کښې شوې ده اونن سبا په بڼ مینګه وره کښې اوسي ـ سبق ئې ایله پینځم جماعت پورې وئیلے دے ."۲۱

مختیار بېگم د ډېر وخت نه شاعري کوله خو هغې خپله دغه شاعري پټه ساتله او ځان ئې د شاعرۍ په حېث معارفي کول نۀ غوښتل دخپل عمر په بیخي اخرکښې چې کله هغه ناروغه شوه او د سوات یو ډاکټر ورله علاج کولو نو د هغه په ستائینه کښې ئې څو شعرونه اولیکل او دغه رنګ د هغې دشاعرۍ پته د هغې خپلو خپلوانو ته اولګېده هغه په دې اړه په خپله لیکي:

"زما خپلوانو چې دا شاعري اوکته نو ځۀ حېرانه شو او ما ته ئې غند نه هم اوکړه چې الله تعالي تاله ډېره لویه تحفه درکړې ده او تا پټه ساتلې ده ـ "۲۲

دهغې د خپلو لیکلو خبرونه اندازه لګي چې د هغې نیکونه او خاندان قامي او مذهبي خاندان او د شعر لیکونکي هم په کښې موجودوو-

د مختیار بېگم یوه شعري مجموعه "دارمان چغه "په نوم چاپ ده خۆ په کتاب د چاپ کېدو کال نۀ دے لیکلے شوے البته په کتاب د فضل محمود روښان د خبرو په اخر کښې نېټه ۲۵،۰۵، ۲۰۰۵لیکلے شوې ده ،د دغې نه ثابتېږي چې کتاب هم په دغه کال ۲۰۰۵ کښې چاپ شوے دے مختیار بېگم په کال ۲۰۰۷کښې وفات شوې ده د مختیار بېگم د شاعرۍ د لوستو نه په اسانه اندازه لګي چې هغۀ دخپل دور او ژوند مطمئینه نۀ وه ـ د هغې په شاعرۍ کښې تر ټولو ښکاره رنګ د هغې عشقیه شاعري ده ـ د هغې دغه احساسات د هغې په ټوله شاعرۍ کښې ښکاره په نظر راځي ـ او د عشق او مینې سره تړلي ګڼ شمېر موضوعات ئې په خپله شاعرۍ کښې ځاے کړي دي ـ لکه په لاندینو شعرونو کښې هم دغه رنګ ښکاره په نظر راځي:

خود به فریادونه مې د خلې نه ځي
خلقه چې جانان مې د کوخې نه ځي

را يـــې کـــړۀ داغونـــه پـــه زړګـــي بانـــدې
اوس مـــې پـــه خنـــدا د دروازې نـــه ځـــي۲۳

هم دغه رنګ د مينې د قربت د لمحو په ارمان کښې دخپل محبوب کلي اوکوڅو ته تلل غواړي او د خپل عمر اخري ساه ګانې هم هلته اخيستل غواړي:

ژيـــري ګرېـــوان د يـــار کوڅـــو لـــه ځمـــه
چـــې هلتـــه مـــړه شـــم ســـاه ختـــو لـــه ځمـــه

ســـاه مـــې د تنـــه پـــه ختـــو شـــوه خلقـــه
هلتـــه اخـــر يـــو ځـــو ســـلګو لـــه ځمـــه۲۴

هم دغه رنګ دخپل محبوب د ديدن له پاره اوتره ګرځي او دغه کېفيت هم د شعر په ژبه بيانوي

د يـــار ديـــدن پســـې شـــمکوره ګـــرځم
د يـــار ناترســـه تـــرس پـــه مـــا نـــۀ راځـــي۲۵

دغه رنګ په لاندينو شعرونوکښې هم د زمانې او دخلکو د رويو نه فرياد کوي او د هغې سره په کېدونکي سلوک او جبر فکرمند ي ظاهره وي :

کـــانړي وره وي عـــالم پـــه مـــا ولـــې؟
خـــاوري چڼـــوي عـــالم پـــه مـــا ولـــې؟

زۀ کـــه ليـــونۍ شـــوم ليـــونۍ يمـــه
ډېـــر ظلـــم کـــوي عـــالم پـــه مـــاولې؟۲۶

د مختيار بېګم د شاعرۍ نه پته لګي چې د هغې د غزل او شاعرۍ مجموعي رنګ هم دغه رنګ دے چې بره ذکر کړے شو ،د هغې شاعري ددغه رنګ نه ډېره کمه بهر ته وتلې ده ـ دلته داخبره ډېره مهمه ده چې مختيار بېګم دغزل نه علاوه په ګڼ شمېر کښې سندرې هم ليکلې دي د هغې "سندرې "ډېرې رواني برجسته او په فن پوره دي ـ د هغې د سندرو په لوسته وئيل اسان شي چې مختيار بېګم په اصل کښې د"سندرې "شاعره وه د هغې په سندرو کښې دزنانۀ جذبات او احساسات په ډېره اسانه ،روانه او عام فهمه پېرايه کښې دادبي خوږلت سره په ډېرښۀ ډول موجود دي ـ

دلته د نمونې په طور د هغې دا "سندره" اوګورئ ـ

پــه ګــودر جنــګ د جینکو، مســتي وهــل کــوي
ډېــر پــه منګــو بانــدي ویشــتل کــوي
منګــي ټــول مــات د جینکــو شــو
د کلــي خلــک پــه خلاصــو شــو
عــالم ئــې ټــول پــه تماشــو شــو
مــنګي ئــې مــات کــړل پــه غــړو بانــدې ویشــتل کــوي
پېغلــې زخمــې شــوې پــه ګــودر کښــې
طبیبــان راغلــۀ پــه هنــر کښــې
جینکــی مســتي دي هــر در کښــې
مخلــوق راغونــډ شــو جینکــو تــه چــې وژل کــوي
د جینکــو مېــنځ کښــې ښــکلا کــړي
جینکــی یــو بــل تــه رضــا کــړي
بــېګم بــه هــم پــه کښــې چڼــا کــړي
ګــودر بــه وران شــي جینکــی بــه نــۀ راتلــل کــوي ۲۷

دغه ورکړے شوې سندره اولسي رنګ لوي او د بګتی په تعریف هم پوره خېژي ددې نه علاوه نور ئې هم ګڼ شمېر بګتی په دغه کتاب کښې موجود دي چونکې د پښتنو په ټولنه کښې د زناناؤ د شاعرۍ په هغې وخت کښې دومره حوصله افزائي نۀ کېده په کوم وخت کښې چې مختیار بېګم شاعري کوله او بیا دا هم ښکاره ده چې زنانه لیکوالو ته هغه ادبي ماحول نه تر لاسه کېږي چې د ادبي روزنې له پاره ضروري وي د دغې حقیققتونو په نظر کښې د ساتلو نه ورستو مونږ دا خبره کولے شو چې د مختیار بېګم شاعري د خپل وخت د ادبي فضاء مطابق د دې قابله ده چې ستائینه ئې اوکړے شي۔

## بېګم بخت زېبا بي بي، بي زېړ کشره بېګم

د سوات په زنانه شاعرانو کښې بي زېړ کشره بېګم یو ښکاره نوم دے۔ بي زېړ کشرې بېګم د مقدار او معیار دواړه په حواله پښتو شعرته دومره څۀ ور بخښلي دي چې په زنانه شاعرانو کښې د هغې نوم او شعري زیار د نظر انداز کولو نۀ دے۔ بي زېړ کشره بېګم د ریاست سوات د

والي صېب میانګل عبدالحق جهانزیب کشره کورودانې ده او هم په دغه وجه د کشرې بېګم په نوم مشهوره شوه ـ د هغې تر دې دمه ډېرې شعري مجموعې مخې ته راغلې دي ـ خو په دغه کتابونو کښې د هغې دزېږون نېټه نۀ ده لیکلې شوې اګر چې د کتابونو په پېل کښې د هغې لنډه پېژندګلو شامله ده ـ دهغې په کتاب "یادونه" کښې حلیمه فخر د هغې پېژندګلو لیکلې ده خو د زېږون د نېټې پحقله ئې څۀ نۀ دي لیکلي او د هغې پېژندګلو نه زیات ئې د هغې د خاوند والي صېب تذکره کړې ده ـ حلیمه فخر د هغې په اړه داسې لیکلي:

"پورۀ نوم ئې بخت زیبا بي بي د والي سوات مرحوم میانګل جهانزیب کور ودانې د سوات اولسي خطاب بېګم صاحب په نوم یادولے شي ـ"۲۸

دغه رنګ د هغې په کتاب "د وخت څپېرې" کښې د هغې پېژندګلو پروفېسر فضل کریم ناشاد لیکلې ده خو د بده مرغه دغه پېژندګلو هم دکشرې بېګم د زېږون نېټه نۀ لري ـ او دغسې دغه خبره د غور طلب پاتې کېږي ـ په هر حال فضل کریم ناشاد د لیک نه د هغې د زېږون د نېټې اندازه لګي هغۀ په دغه اړه لیکلي:

"د هغې مطابق بېګم صېب په کال ۱۹۵۸ء کښې دربار ته د والي صېب د دویمې بي بي په حېثیت راغلې وه ـ دغه وخت د دوي عمر دیارلس کاله وه"۲۹

که د هغې د وادۀ نېټه او کال دغه بره درست تسلیم کړو او بیا د هغې د وادۀ په وخت د هغې عمر هم دریالس کاله صحیح او منو نو د هغې د زېږون کال ۱۹۴۵ ء راوځي او دغه رنګ د هغې د زېږون کال ۱۹۴۵ ءمنلو کښې څۀ قباحت نشته ـ د هغې دلیک لوست په حقله هم دغه کتابونه خاموشه دي خو د هغې د شاعرۍاو په کتاب د خپل نثري تاثراتو نه اندازه لګي چې لیک لوست کولے شي ـ هغې ښه ډېره لوستنه کړې ده او په هر څۀ پوهه ده ـ هغې د خاوند دمرګ نۀ وروسته شاعري پېل کړې ده او زیاتره هم د هغه ذات د هغې د شاعرۍ محور او مرکز دے ـ بي زېډکشره بېګم داولاد د نعمت نه محرومه ده ـ د هغې تراوسه چاپ شوؤ کتابونو کښې "نیمګړے ژوند "،"یادونه" او "د وخت څپېرې "مشهور دي ـ دغه کتابونه چاپ دي ـ هغۀ نن صبا په سېدو شریف سوات کښې ژوند کوي خو د هغې پحقله مشهوره ده چې چاله هېڅ قسمه انټرویو نۀ ورکوي نو ځکه د هغې پحقله نور معلومات ترلاسه نۀ کړے شو ـ او فقط د هغې په چاپ کتابونو اکتفا ء اوکړے شوه ـ

تر څو چې د هغې د شاعرۍ تعلق دے نو روايتي موضوعات لري چې زياتره په کښې دخپل خاوند دجدائي تاثر په لاس راځي۔ هغې په نظم او غزل دواړو کښې طبع ازمائيلې ده۔
د هغې په شاعرۍ کښې حمديه او نعتيه رنګ موجود دے چې د خدائي او رسول صلي الله عليه وسلم د مينې او د عقيدت دليل دے۔ دغه د پښتو شاعرۍ روايت هم دے چې د کتاب پېل د حمد او نعت نه کېږي۔ دهغې د حمدونو او نعتونو نه د نمونې په توګه دلته شعرونه وړاندې کولے شي۔ دلوئې خدا ے ثنا صفت داسې کوي۔

خــــدايا تــــه پــــه بادشــــاهانو کښــــې ســــلطان ئــــې
د دنيـــــا پــــه هــــره بنــــده ښــــهٔ مهربــــان ئــــې
کــــه هــــر څــــو مــــونږ پــــه يــــو بــــل کښــــې محبــــت کــــړو
دهــــر چانــــه فقــــط تــــه پــــه مــــونږه ګــــران ئــــې ۳۰

دغه رنګ د پېغمبر صلي الله عليه وسلم په اړه هغهٔ داسې ليکي:

يــــو نمــــر پــــه پــــاس اسمان کښــــې دے ســــحر ماښــــام ځلېــــږي
بــــــل لا ځلنــــــده ښــــــکاري هغــــــه نمــــــر د مــــــدينې
کــــــافي مــــــې پــــــه دنيــــــا او اخــــــرت هغــــــهٔ رهبــــــر دے
زېبــــــا دے رهبرانــــــو کښــــــې رهبــــــر د مــــــدينې ۳۱

کشره بېګم دخپل خاوند والي سوات سره بې کچه مينه لري او هم دغه اظهار ئې په شاعرۍ کښې موجود دے۔ د والي سوات د زېږون نېټه ۵جون ۱۹۰۸ده۔ د۵جون په اړه هغه داسې وائي:

ورځ د پــــانچ جــــون ده ســــر راپورتــــه کــــړه جانانــــه زمــــا
د خــــاورو ځلــــے درتــــه ناســــت يــــم قــــدر دانــــه زمــــا
هغــــه وړې دنــــاز خبــــرې چــــې تــــا ماتــــه کړلــــې
اوس ســــتغې ســــپورې اورم راشــــه مهربانــــه زمــــا ۳۲

دغه رنګ بل ځاے کښې د پنځم جون په اړه داسې وائي-

د پــــنځم جــــون د بيــــا راتلــــو ســــره بــــې تابــــه شــــومه
ګــــرد وغبــــار کښــــې مــــې ورک شــــوے اشــــنا بيــــا يــــاد يږي ۳۳

دغه رنګ د سوات والي د وفات نېټه ۱۴ستمبر ۱۹۸۷ء ده ـ د خپل محبوب او خاوند د وفات د نېټې په اړه هم هغې د درد نه ډک شعرونه وئيلي دي:

اشـــنا چـــې زمـــا تلـــے د تـــول عمـــر پـــه ســـفر دے
هېرېـــږي زمـــا چرتـــه چـــې زمـــا د زړګـــي ســـر دے
بيـــــــا چـــــــوده ســـــــتمبر دے ۳۴

ددې نه پرته دهغې په شاعرۍ دخپل خاوند سره د،مينې اظهار هم موجود دے او د هغه په جدائي کښې د درد وغم اظهار هم لکه هغه وائي :

ســـتا پـــه يـــادونو وخـــت تېرومـــه ګنـــې نـــۀ تېرېـــږي
د وخـــت ســـيلۍ يـــم غورځـــولې فـــيض رســـانه زمـــا
د مـــرګ او ژونـــد خـــو مـــونږ يـــو ځـــاے دلتـــه قســـم کـــړے وۀ
زېبـــا ژونـــدۍ ده،زېـــب پنـــاه شـــو د جهانـــه زمـــا ۳۵

ددې نه پرته د هغې په شاعرۍ کښې دوخت نه ګيله ،د تنهايۍ احساس او قنوطيت هم ښکاره په نظر راځي:

زمـــا دا ســـترے ژونـــد بـــه خـــداے خبـــر ختمېـــږي کلـــه
صـــبا بېګـــا زمـــا د يـــار هـــره نېټـــه يـــادېږي ۳۲

په مجموعي توګه د هغې شاعري د موضوعاتودومره تنوع نۀ لري څومره چې پکار ده ـ د هغې د شاعرۍ موضوعات روايتي او کم دي ـ ددې نه پرته په فنّي حواله هم د هغې شاعري د اوسط درجې شاعري ده خو د دې هر څه باوجود د زنانه په حېث د هغې شاعري د پښتو شعر و ادب په ګټه کښې ده ـ

## ثمينه قادر

مېرمن ثمينه قادر په ۲ جنورۍ کال ۱۹۲۴ کښې دسوات په مينګوره لنډيکس کښې دښاغلي شاه بخت منير کره اوزېږېده ـ د هغې پلارارونباد شاه بخت منير هم د شعر وادب سره نزدې علاقه لرله ـ ښۀ شاعر و او په مشاعرو کښې به ئې ګډون هم کولو ـ هغه د سوات د نوموړي شاعرمحمد جان لوهار همعصر و ـ دهغه دوخت د پښتو سترنوموړي شاعران بۀ د هغه کور ته راتلل ـ په دغه شاعرانو کښې به د حمزه بابا په شان شاعران هم وو ـ د پښتو د شاعرانو نه علاوه

به د اردو ژبې ستر شاعران احمد فراز او خاطر غزنوي هم د هغه خوا له راتلل چې د هغه د شعر وادب سره تعلق او مینې ثبوت دے ـ مېرمن ثمینه قادر خپل اولنے تعلیم په یونیورسټي ماډل سکول او یونیورسټي ټاون سکول پېښور کښې تر لاسه کړو ـ ځکه چې د هغې پلار اروښاد شاه بخت منیر په اسلامیه کالجیټ کښې استاذ و۔ تر نهم جماعت سبق وئیلو نه وروستو د مېرمن ثمینه قادر واده هغه وخت د عبدالقادر سره اوشو چې هغه لا د نهم جماعت طالب العلمه وه۔ د واده کېدو په سوب هغې په باقاعده توګه خپل تعلیم جاري او نه ساتلے شو۔ وروستو هغې په پرائیوټ توګه د لسم ،دولسم او څوارلسم جماعت امتحانونه پاس کړي دي ـ د هغې خاوند عبدالقادر د نادرا ریجنل ډائریکټرو۔ مېرمن ثمینه قادر په باقاعده توګه کومه نوکري نه ده کړې او خپل ژوند ئې د خپلو بچو خصمانې ته وقف کړے دے ـ هغې په ریډیوپاکستان پېښور کښې یوه اوږده موده دکوربنې او سکرپټ لیکونکې په حېث کارکړےدے او دغه وظیفه ئې خواو شا اووه یشت کالونه جاري ساتلې ده ـ او هم د ریډیونه ورته ادبي تحریک او پیژندګلو هم تر لاسه شوې ده۔

تر څو چې د هغې دشعردوینا د پېل کولو تعلق دے نو د هغې د خپلې وینا تر مخه ئې د سکول په دور کښې شعر لیکل شروع کړي و خو د پښتني چاپیریال دپابندو له کبله ئې دغه اړخ ته پاملرنه نه وه کړې ـ لکه چې وړاندې لیکلے شوي دي چې د هغې پلار پخپله لیکوال وه او شاعران به ئې خواته تلل راتلل نو ثمینه قادر ته ددغې دُنیا پته لګیدلې وه خوچونکې وخت داسې وه چې هغې د خپل شعر ښکاره اظهار نه شو کولے۔ وروستو د واده کېدو او بچو سره نوره هم په ژوند کښې راګېره شوه او بیا ډېر وخت وروسته چې ریډیو ته راغله نو دغه فطري او زړه شاعره د دغه ماحول سره بیا را ژوندۍ شوه او د شعر دُنیا ته ئې مخه اوکړه۔

د دې نه پرته چې کله هغې په باقاعده توګه د ریډیو د راتلو نه وروستو شعر لیکل پېل کړه نو هغه په "پاکستان ویمن رایټرزفورم"کښې شامله شوه چې ورته نوره ادبي پیژندګلوترلاسه شوه ـ وروستو هغه ددغې فورم جنرل سیکرټري او صدر هم پاتې شوه او دغه رنګ د دغه تنظیم د پلېټ فارم نه هغې ته نوره هم پزیرائي ترلاسه شوه ـ نن صبا د پښتو په زنانه شاعرانو کښې هغه خپله پیژندګلولري۔

هغې د ډېرو شاعرانو شاعرۍ لوستې ده او د هغې د خپلې وینا تر مخه د هر ښه شعر نه خوند اخلي د خپلې شاعرۍ په اړه هغه وائي چې د خپل زړه د قرار او سکون له پاره شعر لیکي هغه وائي۔

"زۀ چې ډېره اوخپلې شم اوډېر درد راته میلاوشي نو شعر اولیکم او په قلم اوشعر لیکلو خپل درد کم کړم ـ د نړۍ حساس خلک هم دغه رنګ خپل دردونه کموي او چونکې زۀ ډېره حساسه یم نو زما د درد کمولو هم دغه لاره او وسیله ده چې شعر لیکم" ۳۷

تر او سه د هغې یوه شعرې مجموعه "سپېځلې جذبې"په نوم چاپ شوې ده او دویم کتاب ئې هم چاپ ته تیار دے ـ هغه په شاعرۍ کښې نظم او غزل دواړه لیکي ـ د شعر نه علاوه افسانې ، کالمونه او سکرپټونه ئې هم لیکلي دي ـ په اردوکښې هم شاعرۍ کوي ـ هغه نن صبا په حیات آباد پېښورکښې ژوند تېره وي ـ پینځه بچې ئې دي چې په کښې درې لوڼه اودوه زامن دي ـ

مېرمن ثمینه قادر که څۀ هم زنانه ده خو هغې د یوې سترګه ورې او حساسې شاعرې په حېث خپل معروض او ټولنې ته کتلي دي ـ تنقیدي نظر ئې پرې اچولے دے په رنګونو ئې ورله هم شعري تبصره کړې ده او پیکه والي ئې هم په خپل شعر کښې غندلي دي ـ هغې چرته هم د خپل معروض اوچاپېریال نه سترګې نۀ دي پټې کړي اودغه رنګ د هغې په شاعرۍ کښې تر ټولو ښکاره او شوخ په نظر راځي ـ ښکاره ده چې هغه په داسې ټولنه کښې ژوند کوي چې چرته چې قدم په قدم دهغې د قامي وجود په ضد سازشونه روان دي،هره ورځ بمي چاودنې کېږي ،هره ورځ قتلونه کېږي هره ورځ زلمي وژلے کېږي،بچي د ژونده لاس وینځي، د مور دارمانونو جنازې پورته کېږي او پېغلې دخپل ژوند سره سره د ژوند داسرې نه هم لاس وینځي ـ دغه ریښتونے ،حقیقي اوروڼ تصویر هغې په خپله شاعرۍ کښې ډېر په خلاص مټ او فني استکارۍ ځاے کړے دے او خپله ادبي فریضه ئې په ایماندارۍ تر سره کړې ده او د یو تاریخ پوهه کردار ئې هم لوبولے دے لکه هغه لیکي :

داچـــــې رازغلـــــــي اوپـــــــه منـــــــډه ده
دلـــــوپټې پـــــیځکے ئـــــې کلـــــک نیـــــولے
پـــه دې ویربـــــږي چـــې ســـر تــــوره نـــۀ شـــم
پـــه ښـــپو پیـــزار نـــۀ لـــري ښـــپې ابلـــه ښـــپې ده
اوتـــــر اوتـــــر چـــې ایســـــته بیســـــته ګـــوري
داچـــې ئـــې تـــرخ کښـــې خپـــل بچـــے نیـــولے
دا ویربـــدلے ترهبـــدلے پـــه ناآشـــنا خلقـــو کښـــې
دا وړانـــدې وروســـتو اخوادېخـــوا چـــې نظـــر زغلـــوي

ناڅاپـــه چغــــې کـــړي بچـــې مـــې څـــه شـــو
زمـــا ګلانـــه څـــهٔ شـــوه ؟ او عبـــد الله چرتـــه ده؟
پـــه ګنـــه ګونـــه کښـــې تـــاوېږي خپـــل بچـــې لټـــوي
هـــم کلـــه کلـــه بـــې مجالـــه شـــي ،بـــې وســـه شـــي
وســـــــــــواس ئــــــــــې واخلـــــــــــي
خـــدايا داڅـــه قيامـــت دې راوســـتو پـــه مـــونږه بانـــدې
زمـــا دزړهٔ ټـــوټې بـــه چرتـــه وي؟چـــې وي بـــه کـــه نـــهٔ!۳۸

دغه نظم چې دسوات دتېرې بدامنۍ دورځو په اړه د يو تاريخي دستاويز حېثيت لري،د معروض ژوندے تصوير هم دے او د منظر نګارۍ اصلي نمونه هم ده چې په کښې ديوې مور احساسات په ډېره موثره پيرايه کښې تصوير شوي دي چې ترېنه داحقيقت په ډاګه کېږي چې ليکوالې په ويښو سترګو معروض ته کتلي دي او د خپل تخليق له پاره ئې ترېنه مواد ترلاسه کړي دي۔
هم په دغه نظم کښې چې سرخط ئې "دسوات بې کوره خلق "دے دغه تصوير او دغه حقيقت وړاندې دومره دردناک شې چې لوستل ئې ګران شي،وړاندې هغه ليکي:

اخـــوا يـــو بلـــه مـــور لغړېـــړې خپـــل ويښـــتهٔ شـــوکوي
ځـــان لـــه پـــه دواړه لاســـه مـــخ وهـــي ســـينه ټکـــوي
دې خپـــل نـــاجوړه بچـــے کـــور کښـــې پـــه ځـــانګو کښـــې پرېښـــود
ځکـــــه چـــــې دغـــــه بچے ،داګلالـــــے بچے ،معـــــذوه بچـــــے
دې راوســــــتلے نـــــهٔ شــــــو ،اوچتولے ئــــــې نــــــهٔ شــــــو
ســـــــړه ډوډۍ ئــــــې ورتــــــه کېښــــــووده راووتــــــه تــــــرې
اوپــــــــه الله بانـــــــــدې ئـــــــــــې اوســــــــــــپارلو۳۹

د معروض دغه دردونه هغې په خلاص مټ په خپله شاعرۍ کښې ځاے کړي دي اوچې د هغې معروض او ټولنه نوحه نوحه وي نو دهغې شعر هم نوحه نوحه ښکاري او داخبره سل په سله صحيح ثابتوي چې ادب د ژوند عکس او ائينه ده ـ په يو بل نظم کښې چې دقصه خوانۍ چاودنه (ګرجاګر) ترسرخط لاندې ليکلے شوے دے دغه نوحه نوحه ماحول او معروض د هغې

شعر هم نوحه نوحه کړے دے او هغه کرب او اذیت ئې تول په توله په لفظونو کښې ځاے کړے دے د کوم نه چې هغه تېره شوې دۀ هغه لیکي:

هغــــــه د ســــــپینې ګهګـــــــرې
هاغــــــــه ماشـــــــومه ګـــــــوډۍ
دلتــه پــه ســور رېمـــن رېمـــن لبـــاس کښــې
خلقـــه بـــې لاســـو او بـــې پښـــو پرتـــه ده
پـــــه وینـــــو ســـــرو پرتــــــه ده
پـــــه دې درد څـــــوک پـــــوهېږي
پـــــه دې غـــــم څـــــوک پـــــوهېږي ۴۰

ددې نــه پرتــه دزنانـاؤ ســتونزې د ثمینــه قــادر د شــاعرۍ ښـکاره موضــوع ده،اوپــه دغــه موضــوع د هغــې د شــاعرۍ د لوســتونه وروســتو دا خبـره مخـې تـه راځـي چې هغـې د خپـل قلـم او شـعر پـه ژبـه پـه زنانـاؤ د کېـدونکي ظلـم خـلاف دبغـاوت بېـرغ پورتـه کـړے دے او د زنانـاؤ د حقونـو آواز ئې پورتـه کـړے دے ۔"دبېوسـي"د سـرخط لانـدې لـیکلے شـوے نظـم هم دغه موضوع لري۔ په دغه نظم کښې هغۀ دا سې لیکي:

ژونـــد ی پـــه زمکـــه ښـــخه شــــوې زۀ ووم
او پـــه تیـــارو کښـــې لویـــه شـــوې زۀ ووم

د زنـــدګۍ د هنګـــامو ســـره هـــم
لکـــــه دشـــــګې مېـــــده شـــــوې زۀ ووم

د رویـــــو پـــــه قبـــد قبـــــدې خیالونـــــه
دانـــــا جبـــــل نـــــه راوتلــــے نـــــۀ شــــې

او د ادم بابـــــا داګڅـــــه پوښـــــتې
د وجـــود ښـــار کښـــې ځـــائیولے نـــۀ شـــې ۴۱

دغه رنګ په "سوره" نومې نظم کښې هغه ددې رسم نه بغاوت کوي او د دغه رسم په نوم چې دزناناؤ سره کوم ظلم کېږي دهغې نه بغاوت کوي او غندنه ئې هم کوي هغه ليکي:

چـــې لالا مـــې قتـــل اوکـــړي او د بـــل خونـــه کـــړي ورانـــه
بيـــائې عقـــل ســـرله راشـــي او ځـــان روغ غـــواړي جانانـــه

چـــې بـــې وســـه شـــي راپـــاځې بيـــا عـــزت غېـــرت ئـــې هېـــر شـــي
لـــور او خـــور روغـــۀ کښـــې ورکـــړي دا بهـــادر چـــې کلـــه ګېرشـــي۴۲

ددغه بيلګو په بنياد داخبره ډاډه کېدے شي چې د ثمينه قادر په شاعرۍ کښې د موضوعاتو تنوع ددې خبرې غماز دے چې دوخت تېرېدو سره به د هغې د شاعرۍ دغه رنګونه نور هم شوخ شي او په دغه موضوعاتو به هغه نور هم تخليق اوکړي ـ د هغې د شاعرۍ نه ښکاره ده چې هغه په زنانه ليکوالو کښې خپله ځانګړتيا لري او د هغې شعري تخليق،زياراو ادبي فعاليت د پښتو شعر وادب په موجوده فضاءکښې يوه خوشګواره اضافه ده ـ

## شميم بېګم

دسوات په سيمه شموزو کښې دبې وسۍ،بې کسۍ،محرومۍاوتنهائي ژوند تېرونکې شميم بېګم هم دسوات هغه شاعره ده چې ډېر لږ خلک بۀ ئې نوم پېژني ـ هغه په سترګو معزوره ده خو د زړۀ سترګې ئې بينا دي ـ د زړۀ سترګې ئې هغه څۀ ويني چې د سر په سترګو ئې لېدل ګران وي ـ
د مېرمن شميم بېګم خپل نوم"فطرني"دے خو په شميم بېګم ئې ټول کلے پېژني ـ د ادب له پاره په چم ګاونډ کښې په "خورجان" مشهوره ده ـ دهغې دپلار نوم "ګل باز خان" دے چې په "بلابا" مشهور وۀ ـ د خپل عمر په اړه هغه وائي چې خواوشاددؤه پنځوس کالو يم ـ د ټيليفوني مرکې په وخت هغې په دې اړه داسې اووئيل ـ

"زۀ د سوات د شموزو په زرخېله سيمه کښې د تنهايۍ ژوند تېرووم ،زما دپلار نوم ګل باز و عمر مې دوه پنځوس کاله دے ـ په سترګو نابينا يم،خاوندمې وفات شوے دے او درې واړه لوڼه ئې شوي دي "ـ۴۳

په دغه بنياد چې مې د هغې د پېدائيش دکال معلومو هڅه اوکړه نو په دغه حساب د هغې د پېدائيش کال ۱۹۲۴ء دے ـ هغې د قرآن د څو سورتونو يادولو نه علاوه ليک لوست نۀ دے زده کړے ځکه چې د هغې د سترګو نظر نشته ـ واده ئې د "ګلاب خان" نومې سړي سره شوے وۀ

خو د هغه د وفات نه وروستو بيخي يوازې شوه د هغه نه ورله لوے ځښتن درې لوڼه ورکړې دي چې درې واړه وادۀ شوي دي او نن صبا بېخي د تنهائئ ژوند تېره وي۔
هغه د خپل ژوند د تکليفونو،مصيبتونو اوکړاونو نه زړۀ ستړې ده ـ هغه وائي چې د ډېر درد نه شاعري کوي د هغې د وېنا تر مخې هغې د ماشوموالي نه شعر وئيل پېل کړي دي خو هغه پخپله ليک کولے نۀ شي او نۀ ورسره داسې څوک شته چې ورله شاعري اوليکي۔ هغې ته خپله شاعري پخپله په يادو ياده ده خو اوس هغه دعمر داسې برخې ته دا خلېدونکي ده چې دغه په حافظه کښې پاتې کېدل بۀ ګران شي ـ هغې په اولسي رنګ کښې زياتره شاعري کړې ده او غزلونه ئې هم ليکلي دي ـ د هغې شاعري سراسر درد دے ـ غم دے مايوسي ده او د هغې د ژوند تصوير دے ـ د جدايئ نوحه ده،د وخت د ناکړدو ماتم دے،د خپل بخت نه ګيله ده،ويردے او سانده ده ـ دلته د هغې د شاعرئ څو نمونې وړاندې کولے شي۔

د زړۀ سره هېڅ په حال مې خبر نه ئې
پروت زما په شان د غم په بستر نه ئې

د پردو پشاني لري رانه ګرځې
زۀ دې خپل ګنم او ته مې د لبر نۀ ئې

زۀ دې اوسومه د هجر په لمبو کښې
تۀ په زړۀ زما پشانې پرهر نۀ ئې

شميم وائي زۀ دې غم ذرې ذرې کړم
يو ساعت مې د زړګي نه بهر نۀ ئې۴۴

دغه رنګ بل غزل ئې هم دغه رنګ لري۔

نن مې بيا ښکلے جانان ولې خفه دے
درد من زړۀ مې درمان ولې خفه دے

څۀ ګناه او څۀ خطا ده رانه شوې
طبيعت دې پريشان ولې خفه دے

خبر نه یم هیڅ په پته نه پوهېږم
چې زما د ژوند ارمان ولې خفه دے

شمیم وائي ما خو هیڅ نهٔ دي وئیلي
چې زما نه په ما ګران ولې خفه دے۴۵

د خپل غم درد او تنهائي دغه احساس د قنوطیت ئې دلاندې شعرونو نه ښکاره په نظر راځي۔

نهٔ به راشي خوشحالي زما په تن
نهٔ به اوکړمه دخوږ جانان دیدن

نهٔ به لرې شي خزان نهٔ به سپرلے شي
نهٔ به بیا شي بهارونه په ګلشن۴۶

د مېرمن شمیم بېګم دغه هغه شاعري ده چې د ټیلي فون دلارې هغې په یادو راته واوروله۔ د د غو لږو نمونو په بنیاد اووئیل مناسب دي چې هغه د ښهٔ فکر څښتنه ، روښان فکر شاعره ده او د تخلیقي صلاحیتونو مالکه ده ۔ ژبه ئې سوچه ، صفا او روانه ده او د دې جوګه ده چې هغه د شاعري په نوم ژوندی‌اوساتي خو شرط به دا وي چې که د هغې شاعري خوندي کړے شي او د ضائع کېدو نه بچ شي۔

## حوالې


۱. رحیم شاه رحیم، غټه خزانه، سوات، شعیب سنز ۲۰۱۵ مخ ۳۴۹.
۲. هم دغه،مخ ۳۵۱
۳. هم دغه ،مخ ۳۵۵
۴. هم دغه ،مخ ، ۳۵۲
۵. هم دغه ،مخ ۳۵۳
۶. هم دغه،مخ ۳۵۴
۷. هم دغه،مخ ۳۵۵
۸. برکت ، برکت علي،ټیلي فوني مرکه، ۲۸.۱۱.۲۰۱۲
۹. افسانه،ناچاپه شعري مجموعه ، مخ ،۱
۱۰. هم دغه ،مخ ۷
۱۱. هم دغه ،مخ ۲۳
۱۲. هم دغه ،مخ ۴۴
۱۳. هم دغه ،مخ ۴۳
۱۴. هم دغه،مخ ۵۱
۱۵. هم دغه
۱۶. هم دغه ،مخ ۵۴
۱۷. هم دغه ،مخ ۶۸
۱۸. هم دغه ،مخ ۷۰
۱۹. هم دغه ،مخ ۱۱۸
۲۰. هم دغه ،مخ ۷۹
۲۱. مختیار بېګم، دارمان چغه، مینګه وره ګولډن پریس، دچاپ کال، ن، مخ ۱۰
۲۲. هم دغه مخ ۶
۲۳. هم دغه،مخ ۱۳
۲۴. هم دغه ،مخ ۱۷
۲۵. هم دغه،مخ ۴۷
۲۶. هم دغه ،مخ ۵۷
۲۷. هم دغه،مخ ۱۱۱

۲۸. حلیمه فخر ،پېژندګلو مشموله ،یادونه،بي زیړه کشره بېګم،بټ خېله،بلال پریس جون ۲۰۰۸ ،مخ۱
۲۹. ناشاد ،فضل کریم،پروفېسر،پېژندګلو ،مشموله،دوخت ځپېړې،بي زیړه کشره بېګم ، بټخیله عزیزیه پریس جون ۲۰۱۱ ، مخ ۲
۳۰. هم دغه ،مخ ،۲۲
۳۱. هم دغه ،مخ،۷۴
۳۲. هم دغه ،مخ ۷۲
۳۳. بي زیړه کشره بېګم ،دوخت ځپېړې ،بټ خېله ،عزیزیه پریس ،جون ۲۰۱۱ ،مخ ،۲۸
۳۴. بي زیړه کشره بېګم، یادونه، بټ خېله، بلاس پریس، جون ۲۰۰۵، مخ ۷۴
۳۵. هم دغه ،مخ ،۹۲
۳۶. هم دغه
۳۷. ثمینه قادر،ټیلي فوني مرکه، ۲۰۱۲-۱۱-۲۲
۳۸. ثمینه،قادر،سپېڅلې جذبې،پېښور،دي پرنټ مین پرنټرز اینډ پبلشرز ۲۰۱۲،مخ۱۰۲
۳۹. هم دغه ،مخ ۹۱
۴۰. هم دغه ،مخ ۱۱۲
۴۱. هم دغه،مخ۱۱۳
۴۲. هم دغه ،مخ ۷۹
۴۳. شمیم بېګم ، ټیلي فوني مرکه ۲۵.۱۱.۲۰۱۲
۴۴. هم دغه۔
۴۵. هم دغه۔
۴۶. هم دغه